محمد هارون خپل شعشعي


۰۶ جون ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۵۲

**۱۱۴- شريعت :**

شريعت، د اسلامي عالمانو له نظره، هغه حقوق، قاعدې، اصول او لارې چارې دي، چې د يوې اسلامي ټولنې مادي او مانوي (معنوي) ژوند اداره کيې(کوي) . قرآني حُکمونه، نبوي سُنت د اسلامي عالمانو اِجتِهاد او قياس داسلامي شريعت اصلي سرچينې دي .

حضرت آدم، حضرت نوح، حضرت ابراهيم، حضرت موسا، حضرت عيسا او د اسلام وروستی پيغمبر - حضرت محمد عليهم السلام د ځانګړو شريعتو خاوندان دي . ددې پيغمبرانو له ډلې څخه حضرت نوح ، حضرت ابراهيم، حضرت موسا، حضرت عيسا او حضرت محمد عليهم السلام د اوالعزمو پيغمبرانو په نامه ياديږي، چې د وحې، معجزې او کتاب خاوندان دي؛ مخکنې شريعتونه يې منسوخ کړي؛ او پر ځای يې نوي شريعتونه منځ ته راوړي دي[۱] .

د اسلامي تصوف او عرفان په کړيو کې شريعت په نسبتاً بېلو ډولو تعريف سوئ دئ . ځينې صوفيان عقيده لري، چې شريعت د انسان ظاهري يا بهرنی سلوک تنظيميي . د دوي په اند، د ايمان او دين واقعيتونه د شريعت تر پولو او چوکاټ دباندې دي؛ له دې امله داسې حقيقتونه ځان رسول يوازې د سير او سلوک له لارې ممکن دي . په بله ژبه شريعت بې حقيقته، له بې مغزه هډوکي يا پروړو(بوسو) سره ورته والی لري[۲] . د دوی له نظره ، شريعت هغه پوښ دئ، چې له مغز يا حقيقت څخه ليرې پروت دئ . ځينو عرفاني مخکښانو استدلال کړې دئ، چې هغوی يوازې د معرفت مقام ته تر رسېدو پورې د شرعي حُکمواو وجيبو د اجرا کولو دنده او مکلفيت لري . د دوی په عقيده، شريعت د عامو خلګو ياهغو کسانو دپاره دئ، چې حقيقت نه پېژني يا د هغه د پېژندلو وس نه لري[۳] .

داسلامي تصوف او عرفان  مخکښ لاربنود - عزیزالدین بن محمد نسفي (۶۳۰ -  ۷۰۰ هـ ق)  شریعت د انبیاوو وینا او حقیقت د هغوی دید ګڼي، چې لومړی یې قولي او دوهم احوالي بڼه لري[۴] .

ځینو تصوفي او عرفاني صاحب نظرو د شریعت د مانا، درجو او پړاوو او له طریقت او حقیقت سره د هغه اړیکو په باب داسي یادونه کړې ده : «  شریعت، چې د لاري په مانا دئ، د شارع له عربي ټکي څخه اخیستل سوئ دئ، چې د ادارک له پلوه درې مرتبې لري : لومړی ظاهري مرتبه . دوهمه باطني مرتبه . دریمه د باطن باطني مرتبه یا په باطن کي باطني مرتبه .  عوام د شریعت په اوله مرتبه یا  لومړي پړاو کي دي . د شریعت دوهمه مرتبه طریقت دئ . دا مرتبه د پوهي او په سیر وسلوک کي دسالکانو د پرمختګ او استعداد پر اساس، د خاصو خلګو پړاو دئ . دریمه مرتبه د حقیقت مرحله ده، چې د خاص الخاصو سالکانو پړاو دئ[۵] . »

ځینو متصوفینو، شریعت  و الله تعالی ته د رسېدو په مقصد، د سالک د عرفاني سیر او بشپړتیا لومړنی پړاو ګڼلئ دئ . دوی باور لري ، چې د بشپړ شهود پړاو ته په رسېدلو؛ او له حق تعالی سره د سالک تر یو ځای کېدو وروسته، شرعي تکلیفونه او وجیبي هم لیري کیږي[۶] .

داسلامي تصوف او عرفان  په اوږدو کي، له پېړییو پېړییو راهیسې، د شریعت او حقیقت  یا  ظاهر او باطن د پلویانو تر منځ  ژور فکري او عقیدوي اختلافونه  موجود وه . دا توپیرونه او تضادونه کله کله پر صوفیانو او عارفانو باندي د کوپر ( کُفر ) او اِلحاد تر پولو هم رسېدلي دي . ځینو وتلو متشرع صوفیانو؛ لکه په المجدد الف ثاني ملقب، شیخ احمد کابلي سرهندي ( ۹۷۱-  ۱۰۳۴ هـ ق) او ترده  وروسته نامتو محدث، شاه ولي الله دهلوي، شاه عبدالعزیز او ځینو نورو صاحب نظره متصوفو عالمانو د شریعت او طریقت د اختلافو په لیري کولو کي ارزښتناکه ونډه واخیسته . د دوی په اند، طریقت او سلوک له شریعت سره هیڅ توپیر او اختلاف نه لري . سالکان باید له کتاب او سُنت څخه د یوه ویښته په اندازه تېری او انحراف و نه کي[۷] . شیخ مجدد الف ثاني، چې د خپل تصوفي ژوند په لومړیو پړاوو کي د « وحدت الوجود» د عرفاني او فلسفي ښوونځی له ډېرو سر سپارلو پلویانو څخه ؤ؛ خو وروسته یې د شریعت د نفوذ او اغېزې له امله، په عرفاني نړۍ لیدکي د « وحدت الشهود » د نظریې پر لور بدلون را منځ ته سو، عقیده لرله چې لوی صوفیان اوعارفان تر نوو یا تازه کاره سالکانو، لس واره ډېر عبادت ته اړتیا لري[۸] .  د ده له نظره ، په اسلامي تصوف او عرفان کي د سالکانو پرمختګ، له شریعت سره د هغوی په بشپړ سمون او برابرۍ پوري تړلئ دئ .

شریعت، د روښاني سیر او سلوک له اتو عرفاني مقامو څخه لومړی مقام دئ .  د دې عرفاني لاري مفکر لاربنود - بایزید روښان اورمړ' انصاري' ( ۹۳۱  - ۹۸۰ هـ ق ) په  خپل مشهور اثر« خیر البیان  » کي د شریعت او طریقت  اړېکي په داسي ټکو بیان کړي دي : «شریعت وینا او طریقت چار د پیغامبران ده[۹] . . .»

پیر روښان  په خپل بل عرفاني اثر  «  صراط التوحید » کي د شریعت او طریقت تر منځ نه شلېدونکو، نازکو او حساسو اړیکو ته داسي ګوري : «  شریعت د مسلمانی پینځه بناوي او د پیغبرانو علیهم السلام  ویناوي دي . نو باید شریعت د پیغمبرانو په څېرګران وګڼل سي[۱۰] .  »  میا روښان، شریعت د طریقت لار بولي؛ او د لاري دا دوه منزلونه هیڅکله نه سره بېلیي . هغه  په «  صراط التوحید » کي پاچیان او عام وګړي، په داسي  ټینګار د شرعی احکامو وعملي کولو ته وربولي : «  زما خبره واروئ؛ او په شریعت کي ثابت سئ؛ او نورو وګړو ته هم وواياست، چې په هغه کي ثابت سي . »

ځینو بې خبرو او مغرضو لیکوالو، په خپلو آثارو کي ادعا کړې ده، چې ګوندي  پیر روښان په خپل مغولي ضد غورځنګ کي خلګ  داسي اصولو ته وربلل، چې  له هغو څخه یو د اسلام سپېڅلي شریعت ته، نه

پاملرنه وه .  دا ډول تورونه د پښتنو د ازادۍ بخښوونکي سياسي او عرفاني لاربنود -  پير روښان او د زمورډ د عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، په ګډون د روښاني غورځنګ د ټولو صاحب نظرو  مشرانو؛ لکه ملا ارزاني خېشکي( د نوو مالوماتو له مخي تر ۱۰۲۸هـ ق  پوري ژوند ی)، ميرزا خان انصاري ( په ۱۰۴۰ هـ ق کال، د دکن په جنګ کي مړ)، دولت لواني ( تر۱۰۶۹هـ ق پوري ژوندی) او داسي نورو د لوړو عرفاني شهکارو په اِستِناد، په بشپړه توګه درواغ ا و بې بنسټه دي . د تاريخ په شهادت دا ډول  ناروا تورونه په حقيقت کي د سيد علي ترمذي (تر ۹۰۰هـ ق وروسته زېږېدلئ او په ۹۹۱ هـ ق کي په بونير کي مړ)، د هغه د سر سپارلي مريد - اخونددرويزه ننګرهاري ( ۹۳۹-  ۱۰۲۸هـ ق) او داسي نورو مذهبي- سياسي کسانو له خوا جوړ سوي وه، چي غوښتل يي په هر نامه او هره بيه د يرغلګرو مغولو پر ضد د پير روښان او د هغه د کورنی د نورو غړو په مشرۍ د پښتنو اخپلواکۍ بخښوونکي  مبارزې او اتلوالي سر ښندني له ناکامی سره مخامخ کړي .

دا چي د ګورګاني امپراتورۍ په زور او زرو رانيول سوو مزدورانو د پير روښان د عرفاني او سياسي نظريو په باب ډول ډول تورونه او درواغونه جوړ کړي وه، د اريانتيا ځه خبره نه ده ؛ ځکه هغوی د خپلو سياسي ګټو د خوندي ساتلو دپاره و دغه راز بې بنسټه درواغو او تورو ته سخته اړتيا لرله  . د پير روښان د سياسي مبارزو او عرفاني نړۍ ليد پر خلاف د دوښمنانو دا ډول زهرجن تبليغات اوخاينانه توطيي زمورډ د حقپالو او محققو مؤرخانو په ارزښتناکو اثارو کي په پوره تفصيل او وضاحت سره رد سوي دي؛ خو د خواشينی او تعجب ځای دئ، چي پوهاند ډاکټر حسن کاکړ  غوندي پياوړي او نامتو مؤرخ هم  په خپل تاريخي اثر(  افغان، افغانستان ومختصری از کوششهای افغانها برای تشکيل دولت در  هندوستان، فارس وافغانستان ۱۱ )کي د پير روښان د سياسي او عرفاني نظريو په باب د «  سياست قبايلی ګورګانی ها»  تر سرليک لاندي د ښاغلي « R. C. Verma» بې بنسټه او له تورو ډک  نظر را خيستئ دئ . ښه خو دا وه، چي استاد کاکړ په خپله د پير روښان په آثارو؛ لکه «  خيرالبيان » ، «  صراط التوحيد » ، «  مقصود المؤمنين  »، «  حالنامه  » او نورو کي د دې جعل سوي نظر د سموالي يا کږوالي مسأله څېړلي وای؛ او يا يي د زړورو اوخپلواکی مينو  پښتنو د دغه ستر سياسي او عرفاني پېشوا د مخکښو پيروانو د منظومو او منثورو ليکنو په  رڼا کي د دغه  راز جعلياتو او تورونو تېروتنه په ډاګه کړې وای .

که پيرروښان د اسلامي تصوف اوعرفان له منلو ډکتورينو سره سم، شريعت د خپل عرفاني سير او سلوک لومړی اوسکونت د هغه  وروستی مقام ټاکلئ دئ؛ يا شريعت له شپي اومعرفت له لمر سره تشبيه کيي؛ دا خبره خو لکه څنګه چي ځينو بې خبره مؤرخانو هم د هغه د مغرضو دوښمنانو په حواله  نقل کړې ده، په هيڅ ډول او هيڅ عنوان ، د شريعت لوړ مقام ته ، د ده د نه پاملرني په مانا نه ده .  د پوهاند کاکړ صاحب په  همدغه اثر کي د «  تحريک روشانی وګورګانی ها »  تر عنوان لاندي د «  D. Bhanu  »  له ليکني څخه دا را اخيستل سوې خبره هم له هر ډول حقيقت څخه ليري ده، چي بايزيد روښان  يي د شيعه ګانو په اسماعيليه ډلي پوري تړلئ بللئ دئ۱۲ ؛ ځکه مياروښان په خپلو ټولو آثارو کي د حنفي مذهب د پيروۍ خبره کړې ده، او  هر څه يي د دغه مذهب له اصولو سره سم څېړلي او بيان کړي دي . د پير روښان د پياوړو ملګرو او مخلصو مريدانو په آثاروکي هم دا واقعيت د لمر په څېر روښانه دئ .

زمورډ  عالِم او فاضل عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، هم د روښاني طريقت د خليفه او د پير روښان د ډېر وفادار مريد په توګه په خپل پښتو د يوان کي په ډاګه ناري وهي، چي حنفي مذهبه سُني دئ؛ او د خاتم النبيين - حضرت محمد ( ص)  د څلورو يارانو وياړلو ميراثو ته ټينګه وفاداري لري .

چي په څلور يار کښې به يو علي قبول که
هغه مردکوس مثال ناقه ګنه ثلوثه

که توري او بنګښ شيعه ګان هم د پښتنو د وتلي عرفاني پيشوا، بايزيد روښان، په مشرۍ له مغولي استعمار سره د مبارزې په ګډ مورچل کې ولاړ وه، دا څه عجبه او اريانونکې خبره نه ده؛ ځکه پښتانه د سُني او شيعه له توپيرو سره سره، يوه وينه او يو ټبر دئ؛ ګردو په يوه وجود او يوه اواز د خپلواکی په لار کې سربښندني کړي دي . سربېره پر دې ، د روښاني پير له سياسي او عرفاني ادبياتو څخه په ډاګه څرګنديږي، چې پير روښان مفکر او د نظر خاوند عرفاني لارښود ؤ. لکه څنګه چې يې مريدانو په خپلو شعري ديوانو کې کښلي دي، پير روښان د ولايت لوړ عرفاني او روحاني مقام ته رسېدلئ کامل پير ؤ . د ده عرفاني نړۍ ليد، تر هر څه مخکې له قرآني نصوصو او نبوي سُنت څخه الهام اخلي . بېله شکه هغه څوک د مذاهبو په تنګو او محدودو پولو کې نه ځاييږي، چې زړه يې د الهي انوارو هينداره او د پټو اسرارو خزانه يې.

زموږ لوړ مقامه عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، هم په خپلې شاعرۍ کې د شريعت او طريقت دوه بېل، خو سره تړلي جهانونه په خورا نازک خيالی او ژورتيا سره بيان کړي دي . هغه، په يوه غزله کې د خپل کامل پير، بايزيد روښان، دعرفاني نظريو په روڼاکې شريعت د انبياوو وينا بولي؛ ا و له امله ويارې، چې کلام يې د شريعت په زېور ښکلی سوئ دئ :

شريعت ثابت کلام دپيغمبر شه
د روښان يار په ثابت کلام بلند دئ
تل د عرش، کرسۍ په ملک به سير کاندي
چې ترلاندې تل د زړه براق سمند دئ

په يوه غزله کې بې پاخه شرعي تاداوه، د عرفاني مانۍ جوړولو ته د شک او بيرې په سترګه ګوري :

چې بُنياد د شريعت يې محکم نه وي
د عرفان د عمارت باندې هراس دئ
عمارت دې باندې پورته کړه بې وېـرې
چې محکم يې پر زمين ايښئ اساس دئ

مخلص، په خپل ارزښتناک تاريخي او عرفاني اثر« حالنامه » کې هغه کسان د شيطان په لومو او تور کې بند ګڼلي دي، چې په تېروتني سره به يې ځانونه له شرعي اوامرو او لارښوونو ازاد ګڼل؛ او د خپلې دې ادعا د ثبوت دپاره به يې، د قرآن کريم د حجر د سورې په نه نيوييم آيت ( ١٥ : ٩٩) استناد کاوه . په دې مبارک آيت کې داسې امر سوی دئ : « واعبد ربک حتی یاتیک الیقین » ياني ترهغه مهاله د خپل رب عبادت کوه، چې تاته يقين راسي . مخلص، د دغه راز کسانو دا استدلال ناسم بولي؛ ځکه په دې مبارک آيت کې، د يقين مانا مړينه ده١٣ . اوسنيو مفسرينو هم په خپلو تفسيرو کې د يقين يا باور ټکی د مرګ په مفهوم تفسير کړئ دئ . د قرآن مجيد مفسرانو د مدثر د سورې په شپږ څلوېښتم او اووه څلوېښتم آيت ( ٧٤ : ٤٦ - ٤٧) کې هم د يقين ټکی د مړينې په مانا تفسير کړئ دئ . مخلص د خپل استدلال د پياوړتيا او ملاتړ دپاره د وتلي او منلي عرفاني شاعر- ميرزا خان انصاري دا بيت راوړئ دئ :

« عبادت په نابينا په مشقت دئ
دانايان مې خپله چارکا بې تصديعه »

مخلص، پتوحقیقتو ته د رسېدو دیوازنۍلاري په توګه، شریعت د طریقت او حقیقت له مقامو سره داسي پرتله کيي :

شریعت مثال د شپي طریقت ستــوری
حقیقت مثال څرګند دئ و قمـــر ته
شریعت مثال شوده ناسوتي طفــل
د عارف په اورني بلَبني پروت مـادر ته

په بله غزله کي د شریعت او معرفت تر منځ ژور او نه شلېدونکي اړېکی په داسي ښایست او هونرمندئ سره انځوريي :

دا شجر و بر یو لُخت وینم په پوست کي
معرفت د وني بر شریعت پــټ دئ

په دي ډول ګورو، چي د اسلامي عرفان لوړو پوړییو ته رسېدل، یوازي د تینګو او پخوشرعي بنسټونو له لاري ممکن دي؛ خو شریعت هم په یوازي سر د حقیقتو او پټو اسرارو د څرګندولو او موندلو وس نه لري . له دي سَوَبه شریعت او طریقت یا ظاهري او باطني پوهه، یوله بله نه شلېدونکي ارتباط لري . شریعت بي عرفاني پوهي نامکمل او عرفاني پوهه بي شرعي اساسه لړزېدونکي ګڼله کیږي .

د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : طریقت، حقیقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت، سکونت، مقام او حال .

**لمنلیکونه**

١ نسفی، انسان الکامل ٣٢٢ ؛ عمید ١ : ٦١١ .

2 Ansari 76.

3Ansari 76.

٤ نسفی، انسان الکامل ٣ .

٥ وردی، « تعلیقات، » زبدة الحقایق ١٢٥ .

٦ نیرومند محقق ٥٩ .

٧ حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ ٢ : ٣٣٣ .

8 Ansari 7

٩ بایزید روښان، خیر البیان ٩٩ ؛ حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ ٢ : ٣٣٣ .

١٠ روښان، صراط التوحید ٨٨ ؛ حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ ٢ : ٣٣٤ .

١١ کاکړ ٤٧.

١٢ کاکړ ٤٦ .

١٣ مخلص، حالنامهٔ پیر روښان ٧١٩ .

پاته لري